# یوه ورځ

# دَ فضل سبحان عابد په نوم

**امیررزاق ساحل (سکتر پښتو ادبي جرګه ملاکنډ)**

په اوولسمه جنوری دَ ملاکنډ په تورمور کښې دَ بټ خېلې دَ صحافتي برادری له خوا دَ نوي کُول دَ مایه ناز شاعر فضل سبحان عابد په درناوي کښې یو پروګرام تقریب وشو چې نوم ئې ؤ (یوه ورځ دَ فضل سبحان عابد په نوم) چې صدارت ئې رحمت شاه سائل وکړو او مشر مېلمه پکښې دَ ملاکنډ ډي سي او صاحب ؤ. خصوصي مېلمانهٔ ډاکټر خالق زیار، علي اکبر سیال او جمعه رحمان افګار وو. په غونډه کښې کرنل یوسف صاحب خصوصي شرکت وکړو.

ډاکټر خالق زیار په خپلو خبرو کښې ووې چې دا زمونږ بدقسمتي نهٔ بلکې دَ دې ملک بدقسمتي ده چې دَ دې ملک پالیسي سازو قوتونو دَ دې ملک قامي او تاریخي ژبې په زور دَ ترقۍ نه منع کړې دي او دغه قامونه او اولسونه ئې په زور دَ خپلو هغو ثقافتونو نه راشوکولي دي کوم ثقافتونه چې هغوي په اخلاقي او روحاني قدرونو کښې دننه ساتي او النه پالنه ئې کوي. ډاکټر صېب ووې چې دا نن چې کومه بدامني په دې خاوره محسوسېږي، دَ نورو نه لویه وجه ئې هم دا ده چې خلق دَ خپلو قدرونو دَ عظمت نه بېګانه کړے شوي دي. مونږ ته دَ ژبې دَ حصول سره سره دَ خپلو ثقافتونو دَ النې پالنې وظیفه هم را په غاړه ده او باید چې دَ دې قام ټول ذمه دار خلق هم په دغه جذبه دَ خپل قام دَ خاطره په تېزۍ سره کار او عمل وکړي او دَ خپلو قامي مسئلو دَ غفلت دَ ګناه نه خپل راتلونکي نسلونه بچ کړي. ډاکټر صېب دَ فضل سبحان عابد شاعري په دغه حواله ترقي پسنده او قام پرسته شاعري وګڼله او وې وئیل چې په ټولنیز ژوند کښې دغسې ژوندي خیالونه دَ قام دَ وګړو رهنمائي کولې شي. دا دَ خوشحالۍ خبره ده چې زمونږ دَ ادبي تنظیم یو کشر ملګرے نن دَ دې جوګه دے چې خلق دَ هغهٔ په درناوي کښې دغسې پروګرامونه جوړوي او دَ ژوند پېدا کولو هڅې کوي.

ډاکټر صېب دَ فضل سبحان عابد شاعري په دغه حواله ترقي پسنده او قام پرسته شاعري وګڼله او وې وئیل چې په ټولنیز ژوند کښې دغسې ژوندي خیالونه دَ قام دَ وګړو رهنمائي کولې شي. دا دَ خوشحالۍ خبره ده چې زمونږ دَ ادبي تنظیم یو کشر ملګرے نن دَ دې جوګه دے چې خلق دَ هغهٔ په درناوي کښې دغسې پروګرامونه جوړوي او دَ ژوند پېدا کولو هڅې کوي.

علي اکبر سیال په خپلو خبرو کښې دَ فضل سبحان عابد دَ ژوندي شاعرۍ ستائنه وکړه او وې وئیل چې مونږ په شریکه دَ یو خاص مکتبهٔ فکر سره تعلق لرو، هغه مکتبهٔ فکر چې ژوند زېږوي او دَ خلقو جذبو، احساساتو او شعور ته وده ورکوي او هم دغه څۀ دَ یو شاعر وظیفه هم کېدې شي.

جمعه رحمان افګار ووې کوم کار چې زمونږ دَ شاعرانو ادیبانو په ذمه پکار ؤ هغه زمونږ صحافتي وروروليۍ وکړو، ځکه نو مونږ هغوي له دَ دې شاعر په دغسې درناوي ورکولو مبارکي ورکوو.

کرنل یوسف صاحب چې ژبه ئې پښتو نۀ وه خو په دغه علاقه کښې دَ څۀ وخت نه دَ پاتې کېدو په وجه په پښتو کښې ئې شعرونه هم ووې او وې وئیل چې دغسې مثبتې سرګرمۍ نورې هم پکار دي چې دَ څۀ مودې نه دَ دې ځائے دَ اوسېدونکو خیالونه چې کومو حالاتو په ځائے ودرولي وو او دَ مایوسۍ سره ئې مخ کړي وو چې دا بیا ژوندي شي او دَ ژوند په لار روان پاتې شي. هغوي ووئیل کوم حالات چې په دې خلقو راغلل او دوي ئې څومره په ځوان مردۍ سره مقابله وکړه، زۀ دَ دې خلقو ژوندو حوصلو ته سلام پېش کوم.

دَ ملاکنډ ډي سي او صاحب په خپل تقریر کښې ووې چې ماته نن دې تقریب دا یقین راکړو چې په دې خلقو کښې څومره ژوند دے. دا هیچرته نشته ولې دَ افسوس خبره ده چې په دوي داسې حالات راغلل چې چاپېره دَ حېرانۍ او مایوسۍ یوه فضا وه، بیا هم چې دې خلقو دَ سوات، دیر او باجوړ نه دَ راغلو خلقو کوم خدمت کړے دے، کۀ دا نۀ وے نو دَ لکونو خلقو حفاظت نۀ دَ صوبائي حکومت دَ وس خبره وه او نۀ دَ مرکزي حکومت بلکې دې خلقو نۀ یوائې دَ خپلو دغو وروڼو خوېندو خدمت کړے دے بلکې حکومت سره ئې هم ډېر لوئے لاس کړے دے. هغوي ووې چې زۀ به دَ دغسې مثبتو سرګرمو دپاره دَ دې ځائے دَ ټولو ادیبانو شاعرانو سره چې څنګه هغوي غواړي مرسته ملګرتیا کوم چې هم دا خلق زمونږ نۀ یوائې دَ قام او اولس سترګې دي بلکې دَ هغوي دَ ټولو مثبت جذبو بېدارونکي خلق هم دي.

دَ فضل سبحان عابد په فن تاج محمد خاموش او علي خېل دریاب ډېرې ښکلې مقالې پېش کړې چې ناستو خلقو ئې ډېره ستائنه وکړه. فضل سبحان عابد دَ ټې خېلې دَ صحافیانو شکریه ادا کړه او وې وئیل چې زما دَ شاعرۍ سره مینه لرونکي دغه ټول خلق او زما ملګري شاعران ادیبان اکثر زما مشران دي، دَ هغوي نېکې پېرزوئنې به ماته نور ژوند راوبخښي. هغۀ په اخره کښې خپل تازه کلام هم پېش کړو.

دَ پنځوس شپېتۀ کسانو دغه محفل سوونو خلقو ته ورسېدو، په دې محفل کښې اکمل لېوني هم شرکت کړے ؤ او دَ کتابونو سټال ئې هم لګولے ؤ. په دې تقریب کښې دَ نورو مشرانو نه علاوه دَ اې اېن پي دَ تحصیل صدر شعیب خان هم شرکت کړے ؤ.

دَ غرمې دَ ډوډۍ او مانځۀ دَ وقفې نه پس دَ موسیقۍ محفل شروع شو چې حشمت سحر پکښې دَ فضل سبحان عابد کلام پېش کړو او ماس خان استاذ ئې کمپوزنګ کړے ؤ. دَ موسیقۍ دغه محفل چې زلمو پکښې ګډاګانې وکړې او دا ئې دَ ترې هېر کړل چې دا ګني هغه دوه څلور میاشتې مخکښې ملاکنډ دے، دغه مجلس ماښام پنځۀ بجې سر ته ورسېدو. ▪